


# بیک ګراونډ پیپر

## د دوه زره څوارلسم روستو
## پاکستان افغانستان کښې د ترهه ګرۍ
## دمخ نیوي شریکه کړنلاره

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈیویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی




# بېک ګراونډ پېپر

# د دوه زره څوارلسم روستو
# پاکستان افغانستان کښې د ترهه ګرۍ
# دمخ نیوي شریکه کړنلاره

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمینٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

پلډاټ یوه آزاده،غېر جانبداره او بې ګټې د څېړنې او روزنې خپلواکه اداره ده چې مقصد ئې پاکستان کښې جمهوریت او جمهوري ادارې مضبوطول دي.

پلډاټ د پاکستاني مدني ټولنې د قانون XXI مادې کال اتلس سوه شپېته ترلاندې رجسټر شوې بغېر ګټې اداره ده.

پاکستان انسټي ټیوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ کاپي رائټ لري

ټول حقونه خوندي ساتي

پاکستان کښې چاپ شوې

دسمبر دوه زره دیارلسم کښې خپور شوې

ISBN: 978-969-558-392-0

د دې کتاب نه اخستې شوې هره برخه باید چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره اولیکلې یاخپور کړې شي

PILDAT
Pakistan Institute of
Legislative Development
And Transparency

د پاکستان انسټي ټیوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: شمیره اووم،نهمه ایونیو، ایف ایټ ون، اسلام آباد، پاکستان
لاهور دفتر:پنځه څلوېښت اے،سېکټر XX، دویم منزل، فېز III کمرشل اېریا، DHA، لاهور
ټېلیفون: (51-92+) 345-123-111: فکس (51-92+) 3078-226
اېمېل: ;info@pildat.org وېبپاڼه : www.pildat.org
لخوا خپور شوې

# مواد

پیش لفظ

د لیکوال پحقله

پيژندګلو

د ترهه ګرۍ او پاکستان پحقله د افغانستان نظر 10

د ترهه ګرۍ او افغانستان پحقله د پاکستان نظر 10

موجوده معاملات 12

دوه زره څوارلسم روستو دمسلې د حل لوظنامه 12

سيمه ايز سوچ 12

دوه زره څوارلسم دسمبر روستو دپاکستان افغانستان تعلقات 15

نتیجه ـ د مخکښې تلو لار؛ بعضې ګامونه باید چې پورته کړې شي 16

# پيش لفظ

دوه زره څوارلسم روستو پاکستان افغانستان کښې ترهه ګرئ مخنيوي دپاره شريکه کړنلاره يو پېپر دې کوم چې پلډاټ تيار کړېدې چې د پاکستان افغانستان پارليماني غړو د يوولسمې مذاکرې دوران کومه چې د دوه زره ديارلسم کال دسمبر مياشت په اوولسمه او تلسمه نېټه کابل ، افغانستان کښې ټاکل شويدي ، کولې شي د دې د بېک ګراونډ پېپر په حېث کار اوکړي.

دا پېپر چې پوهاند اعجاز خان ليکلې دې دپاکستان افغانستان د تعلقاتو بنياد په ګوته کوي او دې کښې په موجوده مسلو،د ترهه ګرئ په زياتېدونکې چارو، دوه زره څوارلسم روستو د مسلو په حل او دوانړو ملکونو له د تعلقاتو ښه کولو اونور مضبوطولو دپاره څه ضروري دي ، پاملرنه شوېده.

لاتعلقي
دې پېپر کښې راغونډ کړې شوي فکر، سوچ، نظر، نتيجې او سفارښتونه ټول د ليکوال دي او ضروري نه ده چې دا د پلډاټ دفکر هنداره وي.

اسلام آباد
دوه زره ديارلسم

## د لیکوال پحقله



ښاغلي اعجاز خان
پوهاند
د بین الاقوامي تعلقاتو څانګه
پېښور پوهنتون

ښاغلي اعجاز خان پېښور پوهنتون کښې د بین الاقوامي تعلقاتو په څانګه کښې د پوهاند په حېث کار کوي. نوموړې د پاکستان سټرېټجک کلچر او فارن پالیسۍ مېکنګ (د پاکستان ستراتجیکي کلتور او د خارجه پالیسو جوړښت) په نوم د یو کتاب لیکوال هم دې.کومه چې د پاکستان افغانستان تعلقاتو کښې د نهم ستمبر پالیسي بدلون یوه لوسته ده.د دې ترڅنګ د پاکستان په خارجه پالیسۍ ئې دوه والیومه راغلي اوهغه ئې خپاره شوي دي، د دې سره سره په ملکي او غیرملکي کچ ډېر څه خپاره شویدي.

ښاغلي اعجاز خان د یو شمیر ملکي او بهر ملکي ادارو غړې دې او په مدني ټولنو او د اولسي مسلو هواري لړ کښې ډېر فعاله کردار لوبوي.دې دخپلې خوښې په څانګه کښې د صلاحکار په حېث هم کار کوي.

# پيژندګلو

تاريخ، جغرافيې، کلتور او ثقافت،سياست او معيشت پاکستان افغانستان د امن او سلامتۍ لړ کښې يو بل سره تړلي دي.او د هر نوې ورځ او نوې مسلې سره دا خپل منځي تړون نور هم اهميت سيوا کوي.

تاريخ ته د تلو نه بغير هم دوانړه ملکونه دا وخت د ترهه ګرۍ ، انتهاپسندۍ او نا امنۍ دچيلنج سره مخ دي.او د دې چېلنج نه په کاميابۍ سره وتو دپاره ضروري ده چې دوي خپل منځي تعلقات ښه کړي.هر څو که دوانړو هيوادونو ته د خپل منځي مرستو او رابطو د اهميت اندازه ده او دې د ګټې نه په ښه شان خبر دي خو بيا هم دوه اړخيزه تعلقات د نباورۍ، شکونو الزامونو او دهغې په بدل کښې د جوابي الزامونو او تورونو ښکار دي .

دې پېپر کې د ترهه ګرۍ چېلنج او ديو ملک په حقله د بل ملک نظر ته کتنه شوېده.دې کښې په لنډه توګه دا ښودلې شوېده چې څنګه به د يو بل په اړه نظر بدلوي، نباوري په اعتماد او باور کښې څنګه بدلوي،او څنګه به د ترهه ګرۍ د چيلنج مخنيوې کوي چې ورسره د دوانړو ګاونډيانو داسې تعلقات جوړ شي چې په دوه اړخيزه ګټو تماميږي.

## دترهه گرۍ او پاکستان پحقله د افغانستان نظر

افغانستان ته تر ټولو لویه امنیتي خطره دهغوي دننه وسله والي ډلي دي چاته بهر ملکي ملاتړ ترلاسه دی.دې کښي بعضي سیمه ایز ملکونه هم شته چې د افغانستان مسله کښي خپلي ګټي تاوان ته ګوري او د هغې دپاره افغانستان کښي نورو سره جهګړې کوي. دا معامله څکه هم کړکېچنه ده چې د دوي مفاد د یو بل سره متضاد دي څکه چې د یو بریا نیغ په نیغه د بل په ماتې تمامیږي.دې کښي اهم ملکونه پاکستان ، هندوستان دې ، ورسره ورسره ایران ، ترکي ، سعودي عرب، او د سوئیلي آسیا ریاستونه چې افغانستان کښې دخپل شتون دپاره کار کوي.دې ټولو کښي د افغانستان په نظر کښي پاکستان تر ټولو زیات تېز او فعاله دي. افغانستان فکر کوي پاکستان د یو ریاست په حېث د افغانستان خپل واکي د خپو لاندې کوي او دلته په روانه ترهه گرۍ کښي لاس وهي.دافغانستان په خیال پاکستان د دوي دپاره سختي پالیسي لري.دوي وائي چې د پاکستان د عمل،بیانونو، ډپلومېټي او غیر ډپلومېټي اړخونو او عن چې په هر جوړ داسي غواړي چې د نورو ملکونو سره تعلقاتو په اړه او په خاص توګه هندوستان سره تعلقاتو لړ کښي ورته املا ورکړي.او ددې دپاره پاکستان غواړي افغانستان کښي د خپلي خوښي حکومت جوړ کړي.او هم دا وجه ده چې پاکستان طالبانو یانورو ډلو سره یا خو مرسته کوي یا ئې ورته ځائي ورکړېدې او کوشش کوي چې افغانستان حکومت بدل کړي.

لنډه دا چې پورته ښودلي شوې د پاکستان پالیسي افغانستان دخپلي آزادۍ او خپلواکۍ په ضد بولي.

د افغانستان ذهن هم دپاکستان په اړه د یو ناباورۍ نه ډک کړې شوېدې چې پکښي دوي د زمکې دعوه هم لري. د افغانستان پاکستان ترمنځه پوله د برطانیي حکومت په کال اتلس سوه څلور نوي کښي په ډاګه کړې وو چې د ډیورنډ کرښي په نوم یادیږي. [1] افغانستان د برصغیر نه د برطانیې د وتو روستو د ډیورنډ کرښي معامله راپورته کړې وه.په کال نولس سوه اووه څلوېښت کښي افغانستان یواځني ملک وو چې په ملګري ملتونو کښي د پاکستان د وجود منلو نه انکار کړې وو او د ده ویناوه چې تر څو د ډیورنډ کرښي معامله نه وي هواره شوې تر هغې به د پاکستان خاوره نه مني کومه چې ده د برطانیي نه اخستي ده.افغانستان تر ننه په خپله ادعا ولاړ دې.یو حکومت ، عن چې طالبانو هم څوک چې ورته ډېر نزدې وو یا بل یو افغان دولت کله هم د ډیورنډ کرښه د پاکستان نه ده منلې.

پاکستان د امریکا په مرسته او لوظنامه په افغانستان د روس د یرغل دوران د مذهب په نوم یو کامیاب چال اوکړو. په کال نولس سوه اتیا کښې پاکستان د مجاهدینو مرسته اوکړه.او دا اوس د طالبانو د مرستو کولو سره د افغانستان په اړه د پاکستان پالیسۍ نورې هم ښکاره شوې.

د افغانستان په فکر پاکستان د دوي په غیر مستحکم کولو کښي تر ټولو مهمه ذریعه ده.افغانستان ، د چا دپاره چې دا وخت تر ټولو مهمه مسله د طالبانو ختمول دي ، دوي دپاکستان په اړه فکر کوي چې طالبانو سره مرستې کوي یا بیا طالبان افغانستان کښي د کاروائۍ نه نه منع کوي او نه ترې خپله خاوره منع کوي.دوي باور لري چې نه خو پاکستان پخپله د طالبانو مخ نیوي کوي چې ورسره افغانستان کښې لاس وهنه او عملیات اوربړي او ورسره ورسره په ملکي یا غېر ملکي کچ په څه نه څه جوړ د دوي جوړېدو کښي مرسته کوي او دا رنګ پاکستان د افغانستان غېر مستحکم کولو کښي اهم رول لوبوي.

## د ترهه گرۍ او افغانستان په اړه د پاکستان نظر

د پاکستان په خیال دلته د ترهه گرۍ چپه د افغانستان د ترهه گرۍ دلاسه راغلې ده او افغانستان کښي ترهه گري یقیناً د خارجه قواوو د راتګ په ردعمل کښي جوړه شوېده.پاکستان وائي هیواد کښي ئې د بهرني قوتونو او په خاص توګه د هندوستان د مفادو دپاره ترهه گري کېږي.دوي هندوستان ته دخپلي سېکورټۍ په تناظر کښي ګوري او فکر کوي چې په هر جوړ دا برابر اوساتلي شي. [2]

د افغانستان په اړه د پاکستان پالیسي د هندوستان د سېکورټي پالیسي سره سمه جوړول شي.د کله نه چې روس په افغانستان یرغل کړېدې د هغې راپه دیخوا د افغانستان په اړه د پاکستان د پالیسۍ د وه اهمي برخي دي:

**A)** افغانستان کښي دهر هندي لاسوهني مخه نیول

1. For details read, Omrani. Bijan., The Durand Line: History and Problems of the Afghan-Pakistan Border, Asian Affairs Vol. 40.2, 2009.
2. Khan. Feroz Hasan., "Pakistan's Security Perspectives", *Force Magazine* New Delhi, April 2005, http://www.sassu.org.uk/pdfs/Article%20for%20Force%20magazine%20India.pdf accessed 01 Aug 2012. Feroz Hasan Khan's essay is an excellent description of Pakistan's India Centric Security Policy from a realist perspective and a Pakistan sympathetic stand point. Also read Hasan-Askari Rizvi, 'Pakistan's Strategic Culture', in *South Asia in 2020: Future Strategic Balances and Alliances*, Michael R. Chambers, ed. Carlisle, Penn.: U.S. Army War College, November 2002

**B)** د ډیورنډ کرښې معامله په داسې جوړ حل کول چې ورسره د مذهبي سوچ په بدل کښې د پښتون ملتپاله سېکولر سوچ تیار کړي.

د افغانستان نه د روس او (هم د ختیز) د وتو را په دیخوا پاکستان غواړي چې هندوستان د افغانستان نه اوباسي او افغانستان کښې یو داسې ملګرې حکومت غواړي چې پورته ذکر شوې دوه مقصدونه ترې هم پوره کړي.

د پاکستان افغانستان ترمنځه کله هم د دوه ښه ګاونډیانو په رنګ تعلق نه دې پاتې شوې.د پاکستان افغانستان قیصه د یو عام پاکستاني فیصله کوونکي فکر د بداعتمادۍ نه ډکوي.او هر څوک دا خبره سمدستي کولې شي چې دا ناباوري دوانړو طرفو ته ده.د پاکستان افغانستان په تعلقاتو کښې ډېر لاندې باندې راغلي دي.دا تعلقاتو دپه کال نولس سوه یو شپېته کې هغه وخت ډېر لاندې کچې ته کوز شوي وو کله چې سردار داود په افغانستان کښې وزیراعظم وو، دغه وخت افغانستان د پاکستان سره ډپلومېټې اړیکې شکولې وې او پاکستان هم دافغانستان ترانزټې لارې بندې کړې وې.دا تعلقات په کال نولس سوه درې شپېته کې د سردار د اود د استعفا روستو بیا پخائې شول.

بحر حال د تاریخ سمولو او سوچ پاکولو دپاره ضروري ده چې دا خبره په ډاګه کړې شي چې د پاکستان هند ترمنځه نښتو کښې (نولس سوه اته څلوېښت،پنځه شپېته، یو اوویا) افغانستان د هېچا سره نه وو ولاړ او دې سره پاکستان ته دا تسله اوشوه چې که هر قسمه حالات وي د دوي شمالي پولي به محفوظ وي که سوئېل کښې هر قسمه جنګ وي.[3] داسې کله هم نه دي شوې او نه د افغانستان پحقله د پاکستان نه د پښتون ملت پالو په اړه د پاکستاني اسټېبلشمنټ په سوچ کښې څه بدلون راغلې[4].

پاکستاني فیصله ساز په دې سوچ دي چې هر څوک که هندوستان سره اړیکې لري یا دهغه په خله کار کوي، نشي کولې سېکولر دځان سره واخلي او په خاص توګه پښتون ملت پاله خو کله هم نه.[5]

د افغانستان په اړه د پاکستان خطر په دوه څېزونو دي: د هند او افغانستان ترمنځه ښه ملګرتیا به هر وخت د پاکستان د پاره د خطرې خبره وي کله چې هم د پاکستان او هند ترمنځه نښته کېږي او هغه وخت کښې هم کله چې افغانستان د پښتونو په خاوره خپله دعوه کوي.[6] پاکستان کښې ملت پاله پښتانه د وېش نه وړاندې د اينډين نشنل کانګرېس د پښتنو برخه او وارثان دي.د افغانانو او پاکستاني پښتنو ترمنځه تعلق او بیا د دوي د هندوستان سره تعلق د پاکستان سوچ د شک سره مخ کوي.او دا شک بیا د دوي پالیسۍ په مذهبي بنیادونو جوړولو ته هڅوي کوم چې د ډیورنډ د کرښې خیال هم ساتي.

د پاکستان خارجه پالیسۍ جوړونکو یوې تازه لوستې کښې د افغانستان دپاره پالیسو جوړونکو ته ښکاره لاربښودنه کړېده.[7] د پاکستاني خارجه پالیسۍ لوړپوړو اول دا خبره کوله چې باید امریکا له افغانستانه اونه وځي. دوې دا خبره بیا بیا کوي چې کومه ئې د نهم ستمبر روستو کړې وه چې باید طالبان له یو بله جدا کړې شي (ښه طالبان \پښتون د طالب په حېث پېژني) او القاعده.پاکستان د افغانستان د مسلې په یو داسې حل ټینګار کوي چې پکښې هر هغه چا ته خپله برخه مېلاو شي چې ورسره دوي ته د خپلو مفاداتو باور اوشي،او هم دا د یو ښه دوست ریاست پخائې د یو ښه دوست حکومت پالیسۍ غوښتنه وه.پاکستان افغانستان کښې د یو لوئې کردار ترلاسه کولو دپاره خپلې هلې ځلې جاري ساتلي دي هر څو که د دې دپاره د ستراتیجکي ډېپتهـ اصطلاح استعمالېږي او کنه او د دې دپاره به ئې د یو ملګري حکومت \پراخه حکومت\ چې پکښې دټولو ډلو نمائندګي وي لکه ښه طالبان وغیره، غوښتنه کوله.او چې ورسره د افغانستان نه په بشپړ توګه هندوستان اوویستل شي او دې یوائې تر اقتصادي ترقۍ محدود کړې شي.

3. Rasanayagam. Angelo., *Afghanistan A Modern History*, London I. B. Taurin London, 2003, pp. 27-37. For a detailed description of the Pakistani state position on Pashtunistan issue and Pak-Afghan relations read Burke, S. M., and Ziring. Lawrence, *Pakistan's Foreign Policy; An Histrical Analysis,* Oxford University Press, Karachi, 1973, pp. 68-90. For an alternative view read Tendulkar. D. G., Abdul Ghaffar Khan; *Faith is a Battle, Popular* Prakashan Press, Bombay, 1967. pp. 451–53.
4. Grere, Frederic., Pakistan Afghanistan Relations in the Post 9/11 Era, *Carnegie Papers*, No. 72, 2006.
5. Secular Pashtuns till the emergence of PPP in NWFP during the 1970s, meant Nationalist followers of Abdul Wali Khan, son and political heir of Khan Abdul Ghaffar Khan. Currently they are in the fold of Awami National Party (ANP) led by Asfanyar Wali Khan. ANP has formed government in Khyber Pakhtunkhwa with support of PPP. There are some other minor groups or individuals outside the fold of ANP as well as Pakhtunkhwa Milli Awami Party (PMAP), which is mainly based among the Pakhtuns of Balochistan.
6. Rubin. Barnett R*., Fragmentation of Afghanistan: State Formation and Collapse in the International System*, Yale University Press, New Haven, 1995. pp 63-84
7. 'Pakistan, the United States and the End Game in Afghanistan: Perceptions of Pakistan's Foreign Policy Elite', 'Strategic Security Brief' Jinnah Institute, Islamabad. http://www.jinnah-institute.org/images/jiusipbrief.pdf July 2011, Accessed on 20 July 2012

## پاکستان افغانستان: موجوده مسلې

دوانړه په دې خبر دي چې د یو بل دپاره لوئې اهمیت لري.د هر قسمه تاو تریخوالي او ناباورۍ باوجود دوانړه د یو بل مرستې کول غواړي او دا ضرورت هم دې چې ورسره قومي غوښتنې، اقتصادي،سیاسي او ورسره ورسره د امنیت په رنګ مسلې او چیلنجونه په ښه شان حل کړي.د دوه اړخیزه تعلقاتو ښه کولو دپاره به دوانړو هیوادونو له په یو شمیر څیزونو سمدستي کار کول وي.

## افغانستان مفاهمتي عمل،د پاکستان لخوا خوشې کړې شوي طالبان او د افغانستان چاروا کو ردعمل

افغانستان غواړي چې طالبان د مذاکراتو مېز ته راولي.دوې دې لړ کښې د پاکستان د مرستو هیله کوي.دې کښې بعضې دعوې کېږي چې هغه طالبانو سره رابطې شویدي چې غواړي مذاکرات اوکړي او مسلې د خبرو اترو دلار هوارې کړي.دوي کښې یو شمیر ، چې پکښې بعضې ډېر مهم هم دي پاکستان هغه وخت نیولي وو کله چې دوي پاکستان کښې وو، او دې کښې د ملا عمر روستو په دویم نمبر مهم تن ملا عبدالغني برادر هغه وخت اونیولې شو کله چې مذاکراتو کښې لږ ډېر پرمختګ شوې وو.افغانستان په داسې وخت دي ګرفتارۍ ته په داسې نظر کتل لکه چې د افغانستان مفاهمتي عمل تالا ترغه کول غواړي.

پاکستان په کال دوه زره دیارلسم کښې ډېر طالبان خوشې کړه چې پکښې ملا برادر هم شامل دې او دا ئې څرګنده کړه چې پاکستان د افغانستان مفاهمتي عمل مخ په وړاندې بوتلل غواړي.خو بیا ئې هم دې په "حفاظت" کښې ساتلې دې.افغانستان د خپلې تسلې دپاره هغه سره ملاقات غوښتو.د پاکستاني وزیراعظم نواز شریف (نومبر دوه زره دیارلسم کښې) کابل ته د سفر دوران ژمنه اوکړه چې دطالبانو سره د مذاکراتو لړ کښې به افغانستان اندېښنه ختموي.

## د یو بل خلاف د خپلې خاورې استعمال

افغانستان په پاکستان تور لګوي چې په قبائیلي سیمه کښې ئې طالبانو ته خوندي ځایونه ورکړیدي.دوې د پاکستانه هیله کوي چې د دې په ضد به کاروایي کوي.دوي دا هم ادعا کوي چې د پاکستان لار د انساني او نور ساز و سامان افغانستان ته د لیږلو دپاره استعمالیږي.دوي د کوئټې شوره، حقاني شبکې او نورو ترهه ګرو پاکستان کښې شتون په ګوته کړېدې چې افغانستان کښې د ورانکارو او وسله والو دپاره مالي ،ځاني او نور امداد رسوي.

پاکستان بیا په افغانستان دا تور لګوي چې د دوي خاوره د پاکستان په ضد کارول کېږي او دهغه ځایه ترهه ګرو ته مرستې هم ور رسي.دې کښې تر ټولو مهم تن ملا فضل الله دې څوک چې د ا اوس وخت د تحریک طالبان پاکستان مشر ټاکلې شوې دې او پخوا د ملاکنډ ډویژن د وسله والو مشر وو.پاکستان په افغانستان د بلوچ بېلتون خوښو دمرستو تور هم لګوي.د دوي دا هم الزام دې چې هندوستان د پاکستان غیر مستحکم کولو دپاره او په خاص توګه بلوچستان کښې د اړې ګړې پیدا کولو دپاره د افغانستان خاوره استعمالوي او افغانستان ورته ځائې ورکړیدې.د دې الزامونو او جوابونو الزامونو په وجه څو څو وار په پوله د دوانړو ملکونو د وسله والو ځواکونو نخښتې هم شویدي او وخت په وخت د پولې یو خوا بلخوا ګوله باري هم شوې.د دې صورتحال په وجه د دوانړو هیوادونو ترمنځه فاصلې او ناباورۍ نورې هم سېوا کېږي.

## افغان کډوال

افغانستان غواړي چې باید پاکستان کډوال بېرته لیږلو باندې ډېر ټینګار اونکړي.لوئې شمېر کښې افغان کډوال پاکستان کښې مسلسل ژوند کوي.پاکستان غواړي چې دوي زر تر زره بېرته لاړ شي.افغانستان بیا فکر کوي که داسې حال کښې دا کډوال بېرته افغانستان ته ستانه شو نو دا به د حکومت دپاره لوی انتظامي او معاشي ستونزې پیدا کړي نو ځکه پکار ده چې افغان کډوالو ته پاکستان کښې د اوسېدو دپاره نور وخت ورکړې شي.

## لارې او رسد

افغانستان یو لینډ لاک (بندې لارې) هیواد دې.افغانستان د نورې نړۍ سره د زمکني تجارت، امداد او تګ راتګ دپاره د پاکستان لارو ته اړتیا لري.دوي هیله لري چې دې کښې به ورته څه قسمه خنډان نه وي.

## د ډیورنډ کرښه

د پاکستان او افغانستان ترمنځه یو را روانه مسله د ډیورنډ کرښې او د افغانستان دعوه او هندوستان سره تعلقات دي کوم چې د ټولو مسلو مرکزي نکته ده او د دې په وجه د نورو مسلو هواري کښې هم پرمختګ نه کېږي.

## دوه زره څوارلسم روستو د مسلو حل

دې پېپر کښې کوشش شوېدې چې د دوه (يا درې) ترمنځه د لانجو د حل اصطلاح استعمال کړي.دې کښې د مسلو نه د راوتو تجويز ورکړې شويدې.د وخت سره سره به د خپلواکۍ او خاورې دعوې پخپله خپل ځائې پرېږدي او دا به يواځې د بيانونو يا د کرکټ مېچ ترحده محدود شي.

خو د لکهونو روپو سوال دا دې چې آيا پاليسي جوړونکي به د مقالو او امن دپاره هلې ځلې کوونکو خبرې او ليکونو ته غوږ اونيسي او په دې به عمل اوکړي؟اولس خپل تاريخ پخپله جوړوي،خو دا داسې نه وي چې ځنګه دوي خوشحاله وي.دا په داسې حال کې نه وي کوم چې دوي د ځان دپاره خوښ کړې وي، بلکه په هغه حالاتو کښې وي کوم چې د خپلې اندې جوړ شي او د تير وخت نه را رسېدلې وي.د مړو خلقو تهذيب لکه د بلا د ژوندو په ذهن راخور شي.[8] چاپيريال که غواړي او کنه غواړي خو حالات يو عمل ته موقع ورکوي چې هغه هر څه اوکړي.

د يو موقعې په مناسبت سره کول ښه خبره وي، خو بيا هم دا د هنر مند په کار ، زيار، زړه خوښۍ او اهميت اړه وي چې دې څه کولې شي او د څه په بدل.[9] نو که غواړو چې د پاکستان افغانستان يو بل دپاره سوچ کښې بدلون راشي بايد چې خلق ځان بدل کړي.

ايوب به وئيل چې د نړۍ تر ټولو غريب ملک مسله په دوه وجوهاتو ده. وړمبۍ د مدني ټولنې او سياسي اداروکمزوري ده، کوم چې د مضبوطو خلقو مخکښې راتلل اودروي او د رياست د طاقت او وسائلو په لار کښې خنډان پيدا کوي. او دويم دا چې د رياست ودانۍ ته په يو فيز کښې کتل،او د عمل پوره کولو دپاره د وخت كمول،چې سياسي اهميت او عمليات زياتوي او دهغه ادارو هم چې دا عمليات ترسره کوي.[10]

د پاکستان افغانستان دوانړو فيصله سازۍ نظام له د داسې بنيادي تجربې نه تېريدو ضرورت دې چې ورسره دوي د سېکورټۍ تبديلو نه خبر شي او دې تناظر کښې فيصلې اوکړي.پاليسي ساز هله بدلون ته غاړه ږدي کله چې دوي اووينې د دوي رواني پاليسۍ بيخي د تباهۍ سره مخ دي.دوي تر هغې روان وي چې کله پخپله بدلون راشي.ذهنيت او سټراتجيکي کلتور په مقالو او مباحثو نه بدليږي.د دې دپاره به په حکومتونو کښې بدلون او د جمهوري ادارو مضبوطيا راوستل وي.بعضې منځې ختيز رياستونو کښې نظام راغورځېدل د سېکولر او غير جمهوري اصولو ترمنځه د تضاد وجه وه چې نتيجه کښې ئې بعضې حکومتونه ختم شو.

ډيموکراسي د ناڅاپه بدلون پځائې انقلابي بدلون ته لار هواروي.دا بدلون بايد چې پاکستان کښې راشي ځکه چې افغانستان د بيا ودانۍد عمل نه تېرېږي او يو بدل شوې پاکستان  کولې شي د زوړ دښمن پاکستان په اړه د افغانستان نظر بدل کړي.يو جمهوري پاکستان ، کوم چې په مختلفو ژبو او کلتور کښې وېشلې شوېدې او هلته د اولس د خوښې پاليسۍ جوړې شي دا به د ټولې سيمې د بدلون دپاره ړومبۍ اشاره وي.

## يو سيمه ايز سوچ

د سيمه ايز ملکونو دپاره دا صورتحال ډېر کړکېچن وي کله چې دوي په يو ځائې کښې وي او د يو بل په اړه بدګمانه  او بې باوره وي.چېن ايران او هندوستان کېدې شي ځان د افغانستان سره نزدې اوګنړي خو د پاکستان لخوا چېن ته د ګوادر بندرګاه ورکول به د هند او ايران دوانړو دپاره د شک وسيله وي ځکه چې چين به دا بندرګاه د نيوي ببس په حېث کاروي.ګوادر د ايران د چاه بهار بندر نه يواځې د اوويامیله په فاصله ده.

د افغانستان د مسلو د حل لړ کښې د سيمه ايزو ملکونو سوچ اونظر ډېر اهم دې[11]. دې کښې زياتره ملکونه دا يو ښه موقع ګڼي.د پاکستان او هند ترمنځه د روان کړکېچ په تناظر کښې د افغانستان په مسله د ټولو سيمه ايزو ملکونو يو اتفاق ته رسېدل ګران کار دې.که هندوستان افغانستان ته نزدې کيږي نو دا به د پاکستان دپاره ډېره دخطرې خبره وي ځکه که هر کله د پاکستان په ختيز ه پوله (هندوستان سره) څه قسمه حالات خرابيږي نو پاکستان به د لوئېديزي پولې  (افغانستان اړخنه) هم ويريږي او دا به د ځان دپاره يوه مستقل خطره محسوسوي.دا خطر به ارومرو پاکستان دې ته جوړوي چې افغانستان کښې يو ښه ملګري حکومت قائم کړي.افغانستان کښې د مسلې حل ته رسېدو دپاره ضروري ده چې د پاکستان او هند مسلې حل کړې شي.

د پاکستان دا ويره ختمول پکار ده چې دې به کله هم د هند او افغانستان ترمنځه سېنډوچ نه جوړيږي.دوه زره

8. Marx, Karl., 'The Eighteenth Brumaire of Louis Bonaparte', in *Karl Marx and Frederick Engels, Selected Works* London: Lawrence and Wishart, 1991, p. 92.
9. Wendt, Alexander., 'Anarchy is What States Make of it', *International Organization*, Vol. 46, No. 2, Spring, 1992 p.398
10. Ayoob. Mohammed., *The Third World Security Predicament: State Making, Regional Conflict, and the International System,* Boulder, CO: Lynne Rienner, 1995, p 192
11. Ashley J. Tellis, Aroop Mukharji, (editors), Is a Regional Strategy Viable in Afghanistan?, Carnegie Endowment For International Peace, 2010.

دسمبر دوه زره دیارلسم

څوارلسم کښې د افغانستان نه د خارجي قواوو د وتو صورت کښې د پاکستان مفادات محفوظولو په خاطر که په هر نوم طالبان واک کښې راوستل کیږي نو دا به نه یواځې هند بلکه هیڅ یو ملک دپاره منلو او قبلولو وړ نه

وي.د پاکستان د زړه نه د هند ویره ختمول چې افغانستان سره یو کیدونه به پاکستان ته هیڅ خطر نه وي په دوه اړخیزه، سمیه ایز او نړیوال کچ لویه او فعاله ډپلومیسي غواړي.
ایران وائي دافغانستان د مسلې دحل دپاره سیمه ایز سوچ پکار دې.دا ضروري نه ده چې د امریکا د مفادو خلاف دې وي. د ایران او امریکا ترمنځه دوه اړخیزه تعلقاتو ښه کولو دپاره ډیر محنت شویدې او په خاص توګه کله نه چې ماډریټ روحاني په صدارتي ټاکنو کښې بریالي شویدې.د امریکا ایران ترمنځه تعلقاتو کښې هر قسمه ښه والي به د افغانستان په مسله ښه اثر غورځوي، د طالبانو واپس راوستل به لا ډیره ګرانه وي که د دې څه موقع وي.که دې معامله کښې ایران د نورو سیمه ایزو ملکونو سره په اتفاق شو او دې کښې د امریکا مرسته هم وه نو دې سره به په پاکستان ډیر دباو پریوځي.
دوه زره څوارلسم به د مختلفو لوبغاړو دپاره مختلف کردارونه ټاکي.افغانستان کښې د ناټو او امریکا شتون کمیدو سره به د سیمه ایز ریاستونو دپاره ځائي نور هم سیوا شي.دوه زره څوارلسم پورې په مسله ختمه نشي:

البته د امن او مصلحت اړخته به په مزه مزه سفر شورو شي او د نور مزاحمت امکان به کم شي.
د سیمه ایز نظر سره به خپل منځي اقتصادي اړیکې نورې زیاتې شي.خپل منځي تجارت که په هر شکل کښې وي ، دګیس او توانائۍ منصوبو په شکل کښې ، یا که افغانستان کښې د سرمایه کارۍ په شکل کښې ورسره به سیمه ایز تجارت ته وده اورسي، او دا به اکثر د افغانستان په لار وي نو ځکه به ورسره د پرامن او مستحکم افغانستان اهمیت نور هم زیات شي.
د پاکستان او هند ترمنځه د خرابو تعلقاتو د ښه کولو یو نعم البدل دا هم دې چې کله د افغانستان او پاکستان تعلقات ښه شو نو دې سره به تر څه حده د پاکستان او هند تعلقات هم ښه شي.
تر دوه زره څوارلسم پورې ګرانه ده که سیمه ایز اتفاق رائې پیدا شي.خو دسمبر دوه زره څوارلسم روستو به دا یو پوخ امید وي چې باید د سیمه ایزې اتفاق رائې دپاره کار اوکړې شي او افغانستان د امن طرفته راوستې شي نه چې دې نه میدان جنګ جوړ کړې شي.

## دوه زره څوارلسم روستو دپاکستان افغانستان تعلقات

د پاکستان افغانستان تعلقات به دوه زره څوارلسم روستو دي ته اړه وي چي د دي نه وړاندي دوانړو څه کړيدي او اوس د دوانړو څه حالت دي.دا به د نورو سيمه ايزو ملکونو، امريکا او نړيوالي رورولی افغانستان کښي کار کولو او پاليسو باندي هم اثر غورځوي.

که پاکستان افغانستان دوانړه د دي جوګه وو چي چي خپلمنځي ناباوری ئي د زمکني حقائقو او پاليسو په بنياد ختمي کړي يا ئي تر ډيره حده کمي کړي نو دي سره به دوي کولي شي د دوه زره څوارلسم روستو د ښه تعلقاتو بنياد کيږدي. د اوس نه واخله تر دوه زره څوارلسم پوري وخت د دوانړو ملکونو دپاره يو ه کړکی ده چي پکښي دوي کولي شي د ښه او ګټورو تعلقاتو نوي پيل اوکړي کوم چي به د دوانړو ملکونو په ګټه وي.

داتعلقات به د ايران او امريکا په تعلقاتو هم اثر غورځوي.دا د سيمه ايز ملکونو ترمنځه د ښه رابطو دپاره د يوې موقعي په جوړ هم استعماليدې شي. چي ورسره به خندان ختم شي او ټول به يو اتفاق ته اورسي.

## د امريکا او افغانستان ترمنځه دوه اړخيزه امنيتي تړون

افغانستان او امريکا د دوه زره ديارلسم کال نومبر مياشت په شلمه نېټه په خپل منځي امنيتي تړون صلاح شوي وو د کومي منظوري چي د افغانستان لوې جرګي هم ورکړې وه.خو بيا هم د دې عملي کېدو نه وړاندې ضروري ده چي افغان پارليمان د دي منظوري ورکړي

او اولسمشر حامد کرزئ ئي لاسليک کړي.هر څو که اوس هم دې کښي بعضي مسلي شته خو بيا هم هيله ده چي امريکا او افغانستان به په دې قابو بيا مومي او داشان به امريکا ته د دوه زره څوارلسم روستو افغانستان کښي د ايساريدو دپاره قانوني لار په لاس ورشي.

دغه تړون کښي ليک دي تر څو چي امريکا او افغانستان نه وي رضا امريکا به څه قسمه پوځي کاروايی کښي برخه نه اخلي.تړون دا هم وائي چي امريکا په د افغان ملي سرتېرو مالي مرستي جاري ساتي او دا به د افغان حکومت په وينا او لارښودنه وي.

کاغذونو کښي ژمنه شوېده چي د خارجي يرغل په صورت کښي به امريکا د افغانستان سره مشوره کوي خو دوي به هغه رنګ عمليات نه کوي څنګه چي به ناټو کول يا چي څنګه افغانستان د دوي نه غوښتي وو.دې کښي امريکا هيڅ ژمنه نه دې کړې که په افغانستان څه قسمه بهرني يرغل اوشو نو امريکائي پوځ به د افغان فورسز ملاتړ کوي.که داسي څه خطره وي نو دا تړون وائي امريکا به هغي خطر ته دسختي اندېښني په نظر ګوري، مشوره به کوي او زر تر زره به چي څومره مرسته کولي شي هغه ورکوي.

چرته چي افغانستان اوغواړي کولي شي امريکا ته آسانی پيدا کړي.دا تړون امريکا ته دا حق هم ورکوي چي په نهه ځايونو خپل پوځيان ځائي په ځائي کړي،چي پکښي دوه لوئي ځايونه بګرام او قندهار ائيرفيلډ هم شامل دي.دې کښي امريکا ته دا حق هم شته چي د دوي الوتکي کولي شي د اووه ځايونو نه والوځي يا راکوزي شي چي پکښي د کابل هوائي ډګر هم شامل دی.

## نتیجه:مخکښې تلو لار

د دې پېپر ترمخه د پاکستان افغانستان تعلقات د دښمنۍ نه دوه اړخیزه مرستو ته راوستل به یو اوږد کار وي.د سیمې نه بهر د موجودو ترهه ګرو پاکستان افغانستان سیمو کښې د ځائې جوړولو پیاوړتیا، او د ځائې ،سیمه ایزو او نړیوالو ترهه ګرو دلته کښې عملیات د دې سېمې او ملکونو د خپلې سېکورټۍ او امنیت سره تړلي ده.زړه ډپلومېټې طریقه او نوې چارې ورسره ورسره د طاقت استعمال کولی شي ترڅه حده ترهه ګري قابو کړي هر څو که ئي په بشړه توګه نشي ختمولي.دې سیمه کې د نړیوالو طاقتونو مسلسل عملیات او د امن دپاره لټون ضروري دې چې ورسره به کمزورې ډیموکرېټک نظام د غوځېدو نه بچ شي کوم چې د نړیوالي خطرې سره مخ دې.باید چې د نننۍ کمزورو او د دولت نامکمله ادارتي عمل ته خاص پاملرنه ورکړې شي کوم چې خپل منځي مسلو کښې د نښتو زیاتي اندېښني لري.[12]

دوانړو ملکونو له پکار ده چې یو عمل شورو کړي کوم چې به په مزه مزه دوستانه تعلقاتو ته رسي.دا خبره هم پام کښې ساتل ضروري ده چې د مودو مودو نااباوري او بداعتمادي په یو څو ورځو کښې نه ختمېږي.دوانړو له پکار ده چې هغه مسلې اولېټوې په کومو چې سمدستې کار پکار دې او زر تر زره دهغې مسلو په حل کار شورو کول پکار دي.کم از کم یوه ، تر ټولو اهمه او ضروري مسله د ترهه ګرۍ خلاف مبارزې لړ کښې هم غږې پیدا کول دي.دوي کولی شي چې کم از کم دې کښې فاصلې کمې کړي. لاندې هغه تجویزونه دي چې ورسره مخکښې تګ ممکن دې:

١ ـ باید چې پاکستان د افغانستان مفاهمتي عمل کښې خپل کردار ترسره کړي او د دې دپاره ټولې وسیلې پکار راولي او په خاص توګه هغه خلق د مذاکراتو مېز ته راولي چې د دوي په قابو \ولقه کې دي.
٢ ـ دوانړو له پکار ده چې د یو بل د مفاداتو ترلاسه کولو دپاره خپلو کښې مرستې اوکړي.
٣ ـ دوانړو له پکار ده چې د هغه ترهه ګرو نه لاس په سر شي چې د یو بل ملک کښې اړې ګړې پیدا کوي.
٤ ـ نه دي پکار چې دوانړه خپله خاوره دهغه خلقو په لاس ورکړي یا ئي خاوره د بل کوم یو ملک په ضد استعمال شي.
٥ ـ په پولو سخت بندیز پکار دې او په قانوني توګه تلو راتلو کښې آساني پیدا کول پکار دي چې دا شان د افغانستان او پاکستان خلق او ښېزونه په آسانه ځي راځي.
٦ ـ د شمالي سوئیلي او لوئیدیز ختیز توانائۍ کوریډور جوړښت کښې مرستې پکار دي.
٧ ـ دوه اړخیزه تجارت ته وده ورکول پکار دي، غیر منظم اقتصاد منظم کول پکار دي دا شان به دوانړه اوکړې شي چې د زیات ریونیو په ذریعه ملکي پیاوړتیا نوره مضبوطه کړي.
٨ ـ باید چې پاکستان د افغانستان په بیاودانۍ او ترقۍ کښې برخه واخلي په خاص توګه د تعلیم او صحت په ځانګو کښې.
٩ ـ د آسانو ویزو په ذریقه د اولسونو په کچ رابطې زیاتول پکار دي او د مدني ټولنو ناستې هم باید چې سېوا کړې شي.
١٠ ـ د آسانو ویزو په ذریقه د اولسونو په کچ رابطې زیاتول پکار دي او د مدني ټولنو ناستې هم باید چې سېوا کړې شي.
١١ ـ په پولو سخت بندیز پکار دې او په قانوني توګه تلو راتلو کښې آساني پیدا کول پکار دي چې دا شان د افغانستان او پاکستان خلق او ښېزونه په آسانه ځي راځي.
١٢ ـ د پاکستاني معاشي ګټو خلاف د افغان ترانزټ ټرېډ غلط استعمال مخنیوي لړ کښې مرستې زیاتول.
١٣ ـ دوانړو له پکار ده چې د ډیورنډ کرښې په مسله بحث پرېږدي او د دې د ډپلومېټې حل اولټوي

12. Ibid p.47



پلڈاٹ

پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپیرینسی


اسلام آباد آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان

لاہور آفس: 45-اے سیکٹر 20 سیکنڈ فلور فیز III کمرشل ایریا، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور

ٹیلیفون: 345-123-111 (92-51+) فیکس: 3078-226 (92-51+)

E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org